

اساسنامه

(دګهیځ دلیکوالو او ژورنالېستانو ټولنه)

1393هـ ش

لومړی څپرکی

عمومي احکام

لومړۍ ماده: دا اساسنامه د ټولنو د قانون د احکامو پر بنسټ ترتیب شوې ده.

دویمه ماده: ددې ټولنې نوم (دګهیځ دلیکوالو او ژورنالېستانو ټولنه- انجمن نویسندهگان وژورنالستان ګهیځ)دی.

درېیمه ماده: دا ټولنه، یو فرهنګي او ټولنېز ارګان دی او خپلو موخو ته د رسېدو او د خپلې پالیسۍ د تطبیق لپاره، له هر ډول قومي، سمتي، ژبني او مذهبي تعصب او توکم پرته عمل کوي.

څلورمه ماده: ددې ټولنې مرکز به د هېواد په پلازمېنه کابل کې وي، او نماینده ګۍ به يې د دريو کلونو په ترڅ کې د هېواد په بېلابېلو برخو کې جوړېږي.

پنځمه ماده: دا ټولنه، په بشپړه توګه غير سياسي او غير انتفاعي ټولنه ده.

شپږمه ماده: ددې ټولنې فعاليتونه به د ناستو، ورکشاپونو او غونډو په بڼه ترسره کېږي.

دويم څپرکی

موخې

اوومه ماده: د دې ټولنې موخې او اهداف په لاندې ډول دي:

1- د هېواد په بیا رغونه کې د رسنیز کار له لارې ونډه اخیستنه.
2- د خلکو په معلوماتي ودې او پرمختګ کې ونډه اخیستنه.
3- د افکارو د تبادلې لپاره د متقابل درناوي د اصل په رعایت سره په آزاده فضا کې زمینه برابرول.
4- د رسنیو اوکلتور د ودې په موخه بېلابېلو اړخونو ته د سلا مشورو او علمي طرحو وړاندې کول، او د دیني او ملي ارزښتونو په چوکاټ کې د ادب او کلتور په وده کې ونډه اخیستنه.
5- په ټولنه کې د اسلامي فرهنګ او ملي اصیلو ارزښتونو خپروای او پراخول.

6- د قانون په چوکاټ کې د غړیو، لیکوالو، ژورنالېستانو او د نورو خلکو د حقونو او آزادیو ساتنه.
7- په افتخاري بڼه د ژورنالېستانو د مسلکي او کاري وړتیاوو پیاوړي کول.
8- له اسلامي ارزښتونو څخه ملاتړ او د هغې ساتنه.

دریېم څپرکی

د غړیتوب شرطونه، حقونه او وجایب

اتمه ماده: هغه کسان ددې ټولنې غړیتوب ترلاسه کولای شي چې لاندې شرایط یې پوره کړي وي:

۱- د افغانستان تابعیت ولري.

۲- د محکمې له خوا په جزا نه وي محکوم شوی.
۳- ژورنالېست يا ليکوال وي او يا په فرهنګي فعاليتونو کې ونډه ولري.
۴- له ښه شهرت نه برخمن وي او په ملي او اسلامي ارزښتونو ټينګ وي.
۵- ددې ټولنې اساسنامې او نورو لوايحو ته ژمن وي.

نهمه ماده: د ټولنې غړي ددې اساسنامې د احکامو پر بنسټ لاندې حقونه او وجايب لري:

1- د ټولنې په تشکيلاتو کې د ټاکل کېدو او د نورو د ټاکنې حق.

2- د ټولنې د بېلابېلو موضوعاتو اومالي مسايلو په اړه له مسؤولينو څخه د توضيحاتو غوښتنې حق.

3- د ټولنې د کارونو د سمون په موخه، مديره پلاوي ته، په ژبنۍ يا ليکلي ډول، د سالم انتقاد او وړانديزحق.

لسمه ماده: د غړيتوب سلب کېدل يا بېرته اخيستل کېدل، په لاندې حالاتو کې ترسره کيږي:

1- د ټولنې د اساسنامې له احکامو څخه په پرله پسې ډول سرغړونه.

2- دجرم د ارتکاب يا داسې کار د ترسره کولو په صورت کې چې د دين له بنسټونو، ملي مصلحتونو او د هېواد د خپلواکۍ سره په ټکر کې وي.

3- د ټولنې په فعالیتونو کې ونډه نه اخیستنه.

یوولسمه ماده: د غړیتوب سلب یا اخیستل کېدل، د مدیره پلاوي په وړاندیز او د ټولنې د مرکزي شورا په تصویب ترسره کیږي.

څلورم څپرکی

تشکیلات

دولسمه ماده: ټولنه لاندې تشکیلات لري:

1- عمومي مجمع (عمومي غونډه)
2- مرکزي شورا.
3- مدیره پلاوی.
4- رئیس، مرستیال، د دارالانشاء مسؤول او لاندې مسلکي کمېټې: فرهنګي کمېټه، اداري او مالي کمېټه.

دیارلسمه ماده: عمومي مجمع یا عمومي غونډه، د ټولنې له ټولو غړو څخه جوړېږي او د پرېکړې تر ټولو لویه مرجع ده.

څوارلسمه ماده: عمومي مجمع یا عمومي غونډه په عادي حالاتو کې په کال کې یو ځل جوړېږي.

عمومي مجمع یا عمومي غونډه لاندې واکونه لري:

1- د ټولنې د پرانیستې په پړاو کې د ټولنې د اساسنامې تصویب.
2- د مرکزي شورا د غړیو ټاکنه.
3- د ټولنې د کار د ښه والي لپاره د ورانديزونو او سلامشورو وړاندې کول.
4- د مدیره پلاوي د راپور اورېدل.

5- د عمـومي مجمـع يـا عمـومي غونـډې پرېکړې د دوه ثلثه برخې په تایید سره د پلي کېدو وړ دي.

6- دعمومي مجمع یا عمومي غونډې فوق العاده ناستې دټولنې د مرکزي شورا د دوه ثلثه غړو په تایید، تر ټاکلې مودې وړاندې جوړېدای شي.

پنځلسمه ماده: مرکزي شورا:

مرکزي شورا له(۲۵)غړيو څخه جوړېږي چې د عمومي مجمع يا عمومي غونډې له خوا د دريو کلونو لپاره ټاکل کيږي.

د ټولنې د پرانيستنې په وخت کې د مؤسسانو پلاوی، د مرکزي شورا حيثيت لري.

د مؤسسانو پلاوی د عمومي مجمع يا عمومي غونډې تر جوړېدو وروسته او د مرکزي شورا تر ټاکل کېدو وورسته، منحل کيږي.

په مرکزي شورا کی د غړيتوب شرطونه:

1 – ددې اساسنامې په اتمه ماده کې په ذکر شويو شرايطو برابر وي.

2 – کم تر کمه دوه کاله يې پدې ټولنه کې د غړي په توګه تېر کړي وي.

3 – د مدیره پلاوي له خوا غړیتوب ته نوماند شوی وي.

د مرکزي شورا صلاحيتونه:

1 - د عمومي مجمع يا عمومي غونډې له خوا تر تاييد وروسته په اساسنامه کې بدلون راوستل.

2 -د مديره پلاوي د غړيو ټاکل.

3 - د ټولنې د رئيس ټاکنه او له دندې ليرې کونه.

4 – د مديره پلاوي له کارونو څخه څارنه او مراقبت.

5 – مرکزي شورا، په عادي حالاتو کې په هرو شپږو مياشتو کې يوځل خپله غونډه جوړوي.

6 - مرکزي شورا، عمومي مجمع يا عمومي غونډې ته ځواب ورکونکې وي.

شپاړلسمه ماده: مديره پلاوی

مديره پلاوی له دريو غړيو څخه جوړ وي چې په ټولنه کې تل يوه فعاله اداره وي او د مرکزي شورا له اړخه د دريو کلونو لپاره ټاکل کيږي.
مديره پلاوی، تر مرکزي شورا وروسته، په ټولنه کې تر ټولو لوړه د پرېکړې او تصميم نيونې مرجع ده.

اوولسمه ماده: د مديره پلاوي دندې په لاندې ډول دي:
1- د ټولنې د چارو پر مخ بيول او دهغې استازيتوب کول.
2- د کاري پلان جوړول او دهغې پلي کول.
3- مرکزي شورا ته ځواب ورکړه.

4- ددې اساسنامې د موادو په اساس، مرکزي شورا ته د افرادو دغړیتوب منظوري او د غړیتوب د بېرته اخیستو لپاره وړاندیز.

اتلسمه ماده: د مدیره پلاوي ناستې په میاشت کې دوه ځل جوړېږي.

نولسمه ماده: د مدیره پلاوي غړي باید لاندې شرایط ولري:

1- ددې اساسنامې په اتمه ماده کې د راغلیو مواصفاتو څښتن وي.

2- د رسنیو په ډګر کې کم ترکمه، د دریو کالو کاري تجربې درلودونکی وي.

3- د ټولنې غړیتوب ولري.

4- قانوني عمر یې بشپړ کړی وي.

شلمه ماده: د ټولنې منحل کېدل(ړنګېدل)
دا ټولنه په لاندې حالاتو کې د عمومي مجمع یا عمومي غونډې د دوه درېیمې برخې په پرېکړه منحل کېدای شي:
1- د ټولنې تګلوری د اساسنامې د ټاکل شویو موخو او فعالیتونو د بنې په مخالف لوري روان وي.
2- د هغه اندازې داخلي اختلافاتو را ټوکېدل چې د حل لاره ونلري.

یوویشتمه ماده: د ټولنې د منحل کېدو یا ړنګېدو په صورت کې د هغې شتمني او مال یوه کوروني رسنیز ارګان یا په هېواد کې دننه یوې خیریه مؤسسې ته ورکول کېږي.

پنځم څپرکی

مالي چارې

دوه ویشتمه ماده: د ټولنې د تمویل یا مالي سرچینې په لاندې ډول دي:

1- د غړیو میاشتنی حق العضویت.

2- د غړیو، ملي سوداګرو او خیرغوښتونکو وګړو آزادې مرستې.

3- د خپرو شویو نشراتو خرڅلاو.

درویشتمه ماده: د ټولنې مالي چارې، د مالي لایحې پر بنسټ، د مدیره پلاوي، له خوا اداره کیږي.

څلورویشتمه ماده: دا ټولنه ځان مکلف ګڼي چې د هر مالي کال په پای کې، خپل کاري او مالي راپورونه، د افغانستان د اسلامي

جمهوريت د عدليې وزارت د انسجام محترم ریاست ته وړاندې کړي.

شپږم څپرکی

وروستني احکام

پنځه ويشتمه ماده: دا ټولنه د ګهيځ په نامه يو مخصوص نشان لري، (د ګهيځ د ليکوالو او ژورنالېستانو ټولنې نشان، يو ډېش آنتن ښکاروي چې د رسنيزو وسايلو څرګندونه کوي، د ګهيځ کلمه، په دري ژبه د ډېش آنتن په کړۍ کې ځای پرځای شوې او همدارنګه،

د ګهیځ انګلیسي کلمه اود ټولنې د تأسیس کال، تر ډېش آنتن لاندې لیکل شوی دی.)

شپږ ویشتمه ماده: دا اساسنامه شپږ څپرکي او شپږ ویشت مادې لري چې په لومړنۍ عمومي غونډه یا عمومي مجمع کې تر تصویب وروسته، نافذه ده.

پای



اساسنامه

(انجمن نویسنده‌گان وژورنالستان گهیځ)

فصل اول
احکام عمومی

مادة اول: این اساسنامه به تأسي از احکام قانون جمعیت ها ترتیب گردیده است.

مادة دوم: نام این جمعیت (انجمن نویسنده‌گان وژورنالستان گهیځ - دگهیځ دلیکوالو او ژورنالیستانو ټولنه) است.

مادة سوم: این انجمن یک نهاد فرهنگی و اجتماعی بوده و درتحقق اهداف و پالیسي خویش به دور ازهرگونه تعصب قومی،

سمتي، زباني و مذهبی عمل می نماید.

مادة چهارم: مرکز این انجمن درپایتخت کشور (شهر کابل) بوده و نماینده گی های آن خلال سه سال در نقاط مختلف کشور ایجاد می شود.

مادة پنجم: این انجمن یک جمعیت کاملا غیرسیاسی وغیرانتفاعی می باشد.

مادة ششم: طرز فعالیت انجمن از طریق نشست ها، ورکشاپ ها وجلسات صورت میگیرد.

فصل دوم

اهداف

مادة هفتم: اهداف این انجمن قرار ذیل است:

1- سهم گیری در بازسازی کشور از طریق کار رسانه یی.
2- سهم گیری در جهت رشد و ارتقای معلوماتی مردم.
3- زمینه سازی برای تبادل افکار در فضای آزاد با رعایت اصل احترام متقابل.
4- تقدیم مشوره و طرح های علمی به جهت های مختلف در مورد رشد

فرهنگ و مطبوعات وسهم گیری در رشد و انکشاف ادب و فرهنگ در چوکات ارزشهای دینی و ملی.

5- نشر و توسعه فرهنگ اسلامی و ارزشهای اصیل ملی در جامعه.

6- تلاش و پاسداري از حقوق و آزادی نویسنده گان وژورنالستان اعضا وسایرمردم در چوکات قانون.

7- تقویت مهارت های مسلکي وکاري ژورنالستان به شکل افتخاری.

8- حمايت و پاسداري از ارزشهاي اسلامي.

فصل سوم

شرايط عضويت، حقوق و وجايب

مادة هشتم: عضويت اين انجمن را شخصي به دست آورده مي تواند که واجد شرايط ذيل باشد:

1- تابعيت افغانستان را داشته باشد.

2- ازجانب محكمه محكوم به جزا نه شده باشد.

3- ژورنالست و نويسنده بوده و يا در فعاليت

های فرهنگی سهیم باشد.

4- ازشهرت نیک برخورداربوده وبه ارزشهای اسلامی وملی پابند باشد.

5- به اساسنامه و لوایح این انجمن پابند باشد.

مادة نهم: اعضاي انجمن طبق احكام این اساسنامه دارای حقوق و وجایب ذیل مي باشند:

1- حق انتخاب شدن و انتخاب کردن در تشکیلات انجمن.

2- حق مطالبه توضيحات از مسئوولين در رابطه با مسايل مختلف انجمن ومسايل مالي.
3- حق پيشنهاد و انتقاد سالم در مورد بهبود كار انجمن به طور شفاهي يا تحريري به هيئت مديره.

مادة دهم: سلب عضويت در حالات آتي صورت مي گيرد:

1- تخطي مكرر از احكام اساسنامه انجمن.
2- ارتكاب جرايم و انجام كاري كه با اساسات دين و مصالح ملي و استقلال كشور درتضاد باشد.
3- عدم سهم گيري در فعاليت هاي انجمن.

مادة يازدهم: سلب عضويت به پيشنهاد هيئت مديره وتصويب شوراى مركزى انجمن صورت ميگيرد.

فصل چهارم

تشکیلات

مادة دوازدهم: انجمن دارای تشکیلات ذیل است:

1- مجمع عمومی.

2- شورای مرکزی.

3- هیئت مدیره.

4- رئیس، معاون، مسؤول دار الانشاء، وکمیته های مسلکی ذیل: کمیته فرهنگی، کمیته مالی واداری.

مادة سیزدهم: مجمع عمومي متشكل ازتمام اعضاي انجمن بوده وعالی ترين مرجع تصميم گيری می باشد.

مادة چهاردهم: مجمع عمومي بصورت عادی سال يك بار تشكيل جلسه می دهد. مجمع عمومي داراي صلاحيت هاي ذيل مي باشد:

1- تصويب اساسنامه انجمن در مرحله تأسيس آن.
2- انتخاب اعضای شورای مرکزی.
3- تقديم پيشنهادات و مشوره برای بهبود كار انجمن.

4- استماع گزارش هیئت مدیره.
5- تصامیم مجمع عمومی با تایید دوثلث قابل تطبیق است.
6- جلسات فوق العاده مجمع عمومی با تایید دوثلث از اعضا شورای مرکزی قبل از میعاد معینه آن برگزارشده میتواند.

مادة پانزدهم: شورای مرکزی

شورای مرکزی متشکل از (۲۵) عضو میباشد که توسط مجمع عمومی برای مدت سه سال انتخاب می شود.

در ابتداي تأسيس انجمن هيئت مؤسسان حيثيت شورای مرکزي انجمن را دارد.
هيئت مؤسسان پس از برگذاري مجمع عمومي و انتخاب شورای مرکزي منحل مي شود.

شرايط عضويت درشورای مرکزی:

1 – واجد شرايط مذکور در مادة هشتم اين اساسنامه باشد.
2 – حد اقل دوسال را به صفت عضو انجمن سپری کرده باشد.

3 – از طرف هیئت مدیره نامزد شده باشد.

صلاحیتهای شورای مرکزی:

1 – تعدیل اساسنامه، بعد از تایید مجمع عمومی.
2 – انتخاب اعضای هیئت مدیره .
3 – انتخاب و عزل رئیس انجمن.
4 – نظارت و مراقبت از کار هیئت مدیره.
5 – شورای مرکزی در حالات عادی در هر شش ماه یک بار تشکیل جلسه می دهد.

6 - شورای مرکزی نزد مجمع عمومی جوابده می باشد.

مادة شانزدهم: هیئت مدیره

هیئت مدیره متشکل از (3) عضو میباشد که یک ارگان همیشه فعال در انجمن بوده و از طرف شورای مرکزی برای مدت سه سال انتخاب مي گردد.
هیئت مدیره بعد از شورای مرکزي عالیترین مرجع تصمیم گیري انجمن است.

مادة هفدهم: وظایف هیئت مدیره قرارذیل است:

1- پیشبرد امور انجمن و تمثیل آن.
2- تهیه و تطبیق پلان کاري.
3- جوابدهي در برابر شورای مرکزی.
4- منظوري عضویت افراد و پیشنهاد سلب عضویت افراد به شورای مرکزی طبق مواد این اساسنامه.

مادة هجدهم: جلسات هیئت مدیره ماهانه دوبار دایر مي گردد.

مادة نوزدهم: اعضاي هيئت مديره داراي شرايط ذيل مي باشند:

1- مواصفات مندرج در ماده هشتم اين اساسنامه را داشته باشد.
2- حد اقل داراي سه سال تجربه كاري در عرصه مطبوعات داشته باشد.
3- عضويت انجمن را داشته باشد.
4- سن قانونى را تكميل كرده باشد.

مادة بيستم: انحلال انجمن

این انجمن در حالات آتي به فیصله دو ثلث مجمع عمومی منحل مي گردد:

1- سیر انجمن در جهت مخالف اهداف و طرز فعالیت تعیین شده در اساسنامه.

2- بروز اختلافات داخلي در حدي که راه حل نداشته باشد.

مادة بیست و یکم: در صورت انحلال انجمن دارایي ها و ممتلکات آن به یك نهاد رسانه یی داخلي و یا یکی از مؤسسات خیریه داخل کشور تسلیم داده می شود.

فصل پنجم

امورمالی

مادة بیست و دوم: موارد تمویل انجمن قرار ذیل است:

1- حق العضویت ماهانه اعضا.
2- کمك هاي آزاد اعضا، تجار ملی و اشخاص خیرخواه.
3- عواید فروش نشرات.

مادة بیست و سوم: امور مالي انجمن بر اساس لایحه

مالی توسط هیئت مدیره اداره میشود.

مادة بیست و چهارم: این انجمن خود را مکلف دانسته که در اخیر هرسال مالی گزارشات مالی وکاری خویش را به ریاست محترم انسجام وزارت عدلیه ج.ا.ا تقدیم نماید.

فصل ششم

احکام نهایی

مادة بیست و پنجم: انجمن داراي آرم مخصوص به نام گهیئخ میباشد (نشان انجمن نویسنده گان

وژورنالستان گهیځ نشاندهنده یک دیش آنتن است که نماینده گی از وسایل رسانه یی دارد؛ کلمه گهیځ به زبان دری در حلقه دیش آنتن جابجا گردیده است و همچنان کلمه انگلیسی گهیځ وسال تأسیس آن در پایان دیش آنتن نوشته شده است).

مادة بیست و ششم: این اساسنامه دارای شش فصل وبیست و شش ماده است که بعد از تصویب اولین مجمع عمومی انجمن نافذ مي باشد.

پایان